StudentBounty.com

FEDERAL PUBLIC SERVICE COMMISSION

COMPETITIVE EXAMINATION FOR RECRUITMENT TO POSTS IN B.P.S.-17 UNDER THE FEDERAL GOVERNMENT, 2001.

# PUSHTO

TIME ALLOWED: 3 HOURS | MAXIMUM MARKS: 100

نوټ:- دیرومبئ سوال لازمي دے - دَ نورو سوالونو نه دَ خپلے خوښے دَ څلورو سوالونو ځوابونه ولیکئ - د سوالونو نمبرے برابرے دي -
(په بریکټ کښې دَ ورکړ شوو ټکونه درست ټکے راواخلئ او په خالي ځائے کښې یې ولګوئ)-

1- (20)

(1) "ادب څه دے" نوم کتاب ................ لیکلے دے -
(سحر اتمانزئ - سحر آفریدی - سحر یوسفزئ)

(2) دَ پښتو اولنئ ډرامه "درے یتیمان" ............ کښې لیکلے شوے ده (1917ء - 1927ء - 1937ء)

(3) دَ پښتو "درد" نوم ډرامه ............ لیکلے ده -
(امیر نواز جلیا - امیر نواز ناساپاه - امیر نواز بیدریا)

(4) "شهیده سکینه" نوم ډرامه ............ لیکلے ده -
(عبدالاکبر خان اکبر - عبدالخالق خلیق - عبدالحلیم خان عظیم)

(5) ............ کښې په پېښور کښې ریډیو سټیشن پرانستلے شو
(1926ء - 1936ء - 1946ء)

(6) د پیر روښان اصلي نوم ............ وو -
(اخوند درویزه - بایزید انصاری - میرزا خان انصاری)

(7) "جدید پښتو ادب" نوم کتاب ............ لیکلے دے -
(ایوب صابر - محمد شاه صابر - سلطان صابر)

(8) خوشحال خان ............ کښې پیدا شو -
(1603ء - 1613ء - 1623ء)

(9) دَ خوشحال خان خټک دَ پلار نوم ............ وو -
(بهادر خان - شهباز خان - ارسلا خان)

(10) حضرت شیخ رحمکار عرف کاکا صیب په ............ کښې مړ شوے دے -
(1645ء - 1650ء - 1653ء)

(11) بهرام خان د ............ ځوئے وو -
(کاظم خان - علي خان - خوشحال خان)

(12) "بازنامه" نوم کتاب ............ لیکلے دے -
(علي خان - خوشحال خان - کاظم خان)

Contd....P/2

www.StudentBounty.com
Homework Help & Pastpapers

**PUSHTO:**

(13) عبدالرحمان بابا هزار د .......... په اديره کښې دے.
(بهادر کلې - هزار خوانئ - ماشوخيل)

(14) عبدالرحمان بابا د پلار نوم .......... وو.
(خوش ارواحان - خوش بخت خان - خوش زمندخان)

(15) "دی پټانز" نوم کتاب .......... ليکلے دے.
(هيوز - راورټي - اولف کيرو)

(16) "سيليکټيډ پوئمز اف خوشحال خان خټک" نوم کتاب ..........
ليکلے دے. (هيوز - راورټي - اولف کيرو)

(17) د خوشحال خان اولنئ واده په .......... کښې شوے وو.
(1631ء - 1635ء - 1640ء)

(18) شمال مغربي سرحدي صوبه په .......... کښې د پنجاب نه
جدا کړے شوه. (1895ء - 1901ء - 1905ء)

(19) عبدالرحمان بابا په نسب .......... وو.
(آفريدى - يوسف زئ - مومند)

(20) بايزيد انصاري په .......... پيدا شوے وو.
(کانی ګورم - اکوړه خټک - بهادر کلې)

2. (a) د لاندينې انګريزي عبارت په آسانه او روانه پښتو کښې ترجمه وکړئ. (14)

There are two famous black rocks in the bed of the Indus, Just below its Confluence with the Landai and near Attock Fort, known to all as "Jalaliya" and "Kamaliya". Upon them many boats are dashed in flood time and broken up, just as the Orthodox say that souls were destroyed upon the doctrines of the Pir-i-Tarik himself. There is also a hill — the highest in the Khatak range close to Cherat — which bears the *name* of Jalala Sar, and Commemorates with less bigotry than the Rocks the undoubted power and genius of Bayazid, his son, and grandsons. What ever their doctrines, history shows that the free Pathan spirit owes a debt to these men.

(b) د لاندينو نه څلور د درې په پښتو کښې ترجمه وکړئ. (6)

(1) As you sow, so shall you reap.
(2) Go up in the air.
(3) Up in the air.
(4) A false Alarm.
(5) On the side of the Angels.
(6) Know all the Answers.

Contd.....P/3

www.StudentBounty.com
Homework Help & Pastpapers

3- (a) د لاندینۍ پښتو عبارت په معیاري انګرېزۍ کښې ترجمه وکړئ - (14)

په انګرېزۍ شاعرۍ کښې چه د مناظر قدرت کومه تصویرکشي په ښکلي او زړه راښکونکي ډول شوې ده - د دې بنیادي وجه دا ده چه انګرېزان شاعران خپل وطن، خپلو غرونو، دریابونو، باغونو ورشوګانو، ته د چه د خپل ملک خاورې او کانړو سره هم بې کچه مینه لري - که د دې وینا په رڼا کښې د پښتو شاعرۍ او لو سپتې شي - نو معلومه به شي چه پښتانه شاعران هم د قدرت د مناظرو د تصویرکشي په لړ کښې د ډېرې ستائینې ور دي - په دې ذکر کښې دوئ د لوړو ژلو د شاعرانو نه په هیڅ ډول هم روستو نه دي - دوئ د خپل وطن، د خپلې خاورې د ذرې ذرې تعریفونه په دومره جوش، جذبه، مینه او شوق کړي دي چه د منظرنګارۍ سره سره د دوئ د حب الوطنۍ یو واضح او بر څیره تصویر ترې ساز یږې شي -

(b) صرف د درو په انګرېزۍ کښې ترجمه وکړئ - (6)

(۱) چه اجل راشي طبیب به ونه شي -

(۲) چېرته د ب صحت ادب -

(۳) تر ورخ تېرې روبه بېرته نه جارو زي -

(۴) چه نه کوي محبوب څه به اوکړي سلطان محمود -

(۵) خپله خوله بلا ده هم تلا ده -



StudentBounty.com

www.onlineexamhelp.com

www.StudentBounty.com
Homework Help & Pastpapers

StudentBounty.com

وښیلې شي چې "تپې او پښتون قام" د ژوند په سفر (۲۰)
کښې یو بل سره اوږده په اوږده او ښخنک په ښخنک روان
دي. ثابته یې کړئ؟

5- رحمان بابا د "عشق او محبت" شاعر دے. د کلام (۲۰)
په رڼا کښې پرے بحث وکړې؟

6- د خوشحال خان په شاعرئ کښې زیاته برخه قومي (۲۰)
او وطني شاعري ده. تفصیلي بحث پرے وکړئ.

7- پښتو کښې "ډرامه" د لیو خاصے زمانے خاصو سیاسي (۲۰)
حالاتو پیدا کړے ده. ستاسو څه خیال دے؟ تفصیلي
بحث پرے وکړئ.

8- اکثر پښتانه لیکوال امیر حمزه خان شنواري ته د پښتو (۲۰)
غزل بادشاه وائي. ستاسو څه رائے ده؟ بحث
پرے او کړئ.

9- د عبدالحمید بابا شاعرئ د تخیل، صنائع، بدائع (۲۰)
استعاراتو، تشبیهاتو او لوزو ادبي او شعري
تلازماتو په لحاظ ډیره اوچته شاعري ده. مدلل
بحث پرے وکړئ.

*********

www.StudentBounty.com
Homework Help & Pastpapers